د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**گڼه: 437**

(2 سرطان – 8 سرطان 1403 هـ ش)

## د افغانستان له اسلامي امارت سره د روسيې د تعامل پراختیا: موخې او پایلې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

- د افغانستان له اسلامي امارت سره د روسيې د تعامل پراختیا: موخې او پایلې ........................ 3
- د اسلامي امارت په اړه د روسيې کړنې ........................................................... 3
- له اسلامي امارت سره په نږدې کیدو کې د روسيې اهداف ............................................ 4
- پر اسلامي امارت د روسيې د کړنو اغیزې ........................................................ 7
- پایله ......................................................................................... 8
- وړاندیزونه ................................................................................... 9
- مأخذونه ..................................................................................... 9

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغانستان له اسلامي امارت سره د روسيې د تعامل پراختيا: موخې او پایلې

## سریزه

روسیه له یوې پېړۍ راهیسې هم د روسيې د امپراطورۍ پرمهال او هم د شوروي اتحاد پرمهال د افغانستان مستقیم گاونډی و، نن دغه هیواد له افغانستان سره نیغ په نیغه گاونډیتوب نه لري، بلکې د مرکزي آسیا له لارې له افغانستان سره وصل دی. افغانستان او روسیه دواړه د اړیکو او تعامل په برخه کې د لوړو او ژورو تاریخي مخینه لري. یو وخت روسیه لومړنی هیواد و چې د افغانستان خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله او د خپلو گټو د خوندیتوب لپاره یې پر افغانستان مستقیم یرغل وکړ. د برهان الدین رباني په مشرۍ د افغانستان د اسلامي دولت پر مهال روسیه لومړی ببطرفه پاتې شوه او بیا یې د اسلامي دولت او طالبانو ترمنځ په جگړه کې د مجاهدینو د حکومت ملاتړ وکړ. پر افغانستان د امریکامتحده ایالاتو له یرغل وروسته روسيې لومړی له امریکامتحده ایالاتو سره اتحاد وکړ او په افغانستان کې یې د امریکایانو د عملیاتو لپاره خپل هوایي حریم برابر کړ او بیا یې په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو پر جگړې نیوکې وکړې او په افغانستان کې یې د دغه هېواد له شتون سره د مخالفت دریځ خپل کړ. روسيې په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو د حضور په وروستیو کلونو کې له طالبانو سره اړیکې دومره ټینگې کړې چې تیر افغان حکومت او امریکامتحده ایالاتو د طالبانو په ملاتړ تورن کړل. کله چې په ۲۰۲۱ ز. کال په افغانستان کې اسلامي امارت واک ته ورسېد، مسکو یې په اړه ځانگړې تگلاره غوره کړه. که څه هم په غیر رسمي مواردو کې په مسکو کې په یوه یا دوو غونډو کې د اسلامي امارت څو تنه مخالفین لیدل شوي، خو د اسلامي امارت په وړاندې د روسيې رسمي دریځ په یوه ټاکلې تگلاره کې روان دی چې په دې لیکنه کې به پرې بحث شوی دی.

## د اسلامي امارت په اړه د روسيې کړنې

که څه هم روسیه یو له هغو هیوادونو څخه دی، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له راتگ وروسته یې په کابل کې خپل سفارت خلاص پرېښود او له اسلامي امارت سره یې ډیفکتو اړیکې ټینگې کړې، خو کتل کیږي چې دغه هېواد له اسلامي امارت سره په تدریجي ډول خپل تعامل او اړیکې زیاتې کړي دي. په لومړي قدم کې د ۱۴۰۱ هـ.ل. کال په لومړیو کې روسيې موافقه وکړه چې د اسلامي امارت دیپلومات په مسکو کې د افغانستان په سفارت کې د شارژدافیر په توگه ومني. په بل قدم کې روسيې د ۱۴۰۲ هـ.ل. کال په لومړیو کې په مزارشریف ښار کې خپله قونسلگري بیا پرانیستله. په همدې لړ کې د روان کال (۱۴۰۳) په لومړیو کې د روسيې تاس خبري اژانس راپور ورکړ: «د ترهگرو سازمانونو له لیست څخه د طالبانو د غورځنگ (چې اوس مهال په روسیه کې منع شوی دی) د ایستلو موضوع تر څېړنې لاندې ده.» د بهرنیو چارو وزارت وایي، د تروریستي سازمان په توگه د طالبانو د دریځ د لغوه کېدو په اړه دا موضوع د بهرنیو چارو وزارت، عدلیې وزارت او نورو متخصصو بنسټونو له خوا څېړل کېږي. "وروستي پریکړه به د هیواد لوړپوړي سیاسي

مشرتابه وکړي." د روسيې د بهرنيو چارو وزير د دغه عمل د تاييد او دفاع لپاره په دې وروستيو کې وويل: طالبان هغه ځوک دي چې په افغانستان کې اصلي واک لري. د چين د خلکو جمهوريت په څير، موږ هيڅکله خپل سفارت هلته نه دی تړلی، قزاقستان په دې وروستيو کې پريکړه کړې چې اسلامی امارت د ترهګرو ډلو له ليست څخه لرې کړي، موږ هم ورته کار کوو. موږ په مرکزي اسيا کې د خپلو متحدينو په څېر افغانستان ته ارزښت ورکوو. سربيره پردې، روسيې د روان کال (۲۰۲۴) کال په مې مياشت کې «د اسلامي نړۍ ناسته» په دوو مهمو غونډو او د سن پيترزبورګ د کلنۍ اقتصادي غونډې کې چې د دې کال د جون په ۵ څخه تر ۸ پورې جوړه شوې وه اسلامي امارت ته بلنه ورکړې وه.

تر دې ټولو مهم هغه څرګندونې دي چې د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين ازبکستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال کړې وې. پوتين په تاشکند کې په يوه خبري کنفرانس کې د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل: «زه اوس په دې اړه تبصره نه کوم ځکه چې له طالبانو او افغانستان سره اړيکې په دوامداره توګه د اجنډا په سر کې دي. په افغانستان کې ستونزې شته، د انکار وړ نه دي، ټولو ته څرګنده ده، خو پوښتنه دا ده چې له اوسني حکومت سره څنګه اړيکې ټينګې کړو؟ او دا يوه بله موضوع ده، خو د تعامل او اړيکو نوعيت اړين دی. دا هغه خلک دي چې هيواد کنټرولوي، خاوره کنټرولوي. دوی نن د افغانستان حاکمان دي. حقيقت بايد په پام کې ونيول شي او د هغه پر بنسټ اړيکې جوړې شي. موږ د خپلو شريکانو سره په اړيکه کې يو، د مرکزي اسيا په سيمه کې موږ د خپلو شريکانو او ملګرو نظرونه په پام کې نيسو او په ګډه د دې دريځ په اړه پريکړه کوو.»

له پورتنيو ټولو څرګندونو داسې ښکاري چې روسيې په تدريجي ډول له اسلامي امارت سره خپل تعامل او اړيکې پراخې او رسمي کړي، خو آيا د روسيې له خوا دغه نږدېوالی د اسلامي امارت د رسميت پېژندلو لامل کېدای شي؟ په ځواب کې ويلای شو چې روسيه به خامخا په راتلونکې کې اسلامي امارت په رسميت وپيژني، پرته له رسنيزو موضوعاتو لکه د يو ټول شموله حکومت رامنځته کول يا د ښځو د کار او زده کړې حق په ګډون د بشري حقونو درناوی، خو اصلي موضوع داده چې روسيه نه غواړي په يوازې ځان اسلامی امارت په رسميت پيژني چې تل د روسيې د لوړ پوړو چارواکو په څرګندونو کې راغلي، چې دغه هېواد به يوازې په دې برخه کې پريکړه ونه کړي، بلکې له نورو هېوادونو سره په همغږۍ به عمل وکړي. له دې سره چې روسيه له اسلامي امارت سره په نږدې کيدو کې کومې موخې تعقيبوي؟ په اسلامي امارت يې اغېزې څه دي؟ او سيمه ييزې او نړيوالې پايلې يې څه دي؟ داسې پوښتنې دي چې بايد ځواب شي.

## له اسلامي امارت سره په نږدې کيدو کې د روسيې اهداف

افغانستان او روسيه هغه دوه هېوادونه دي چې سياستونه يې يو پر بل اغېزې لري. په تېره بيا روسيه د افغانستان له بدلونونو ډېره اغېزمنيږي. روسيه هم په مستقيم او هم په غير مستقيم ډول له افغانستان څخه


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اغېزمنېږي. د افغانستان سیاسي او امنیتي تحولات او له غربي قدرتونو سره د دغه هېواد اتحاد لکه په شل کلن جمهوريت کې چې دغه هېواد د امریکا متحده ایالاتو متحد و، په مستقیم ډول پر روسیه اغېزه لري. همدارنگه د مرکزي اسیا سره د افغانستان اړیکې او پر دغه سیمه د افغانستان امنیتي اغېزې هم پر روسیه غیر مستقیم اغیزې لري. پخوا په افغانستان کې د روسیې اهداف په دغه هېواد کې د تحولاتو تابع وو، اوس چې اسلامي امارت بیا په افغانستان کې واکمن دی، روسانو له هماغه اوایلو څخه د مثبت تعامل تګلاره خپله کړې او له دې لارې ځانګړي اهداف تعقیبوي، چې دغه اهداف په دریو امنیتي، سیاسي او اقتصادي محورونو کې څېړل کیدی شي.

### ۱ -امنیتي موخې

په افغانستان کې د روسیې امنیتي موخې درې مهم موضوعات، ترهګري، د امریکا حضور او د اسلامي امارت کړنې تشکیلوي. د پخوانیو عواملو په پام کې نیولو پرته، اوس مهال تر ټولو ستره او خطرناکه ډله چې روسیه ترې ویره لري، داعش ده. د روسیې او داعش تر منځ د جګړې تاریخ په سوریه کې د داعش پر ضد د روسیې عملیاتو ته ځي. یو له هغو عواملو څخه چې منځنی ختیځ په ځانګړې توګه سوریه یې سخته کمزورې کړې، هغه عملیات وو چې روسیې پر داعش ترسره کړل. دا د دې لامل شو چې روسیه د داعش سرسخت دښمن شي. یوازینی ځای چې داعش یې کولای شي د روسیې پر ضد وکاروي، افغانستان دی. داعش چې پخوا یې په افغانستان کې پټنځایونه درلودل، روسیه نوره هم وهڅوله چې په افغانستان کې د داعش حضور وڅاري. د پخواني حکومت پر مهال روسیې په افغانستان کې د امریکا د حضور له امله په افغانستان کې د داعش پر ضد اغېزمن اقدام نه شو کولای. په افغانستان کې د اسلامي امارت په بیا واکمنیدو سره روسیې ته دا ښه فرصت برابر شو چې د داعش حضور او فعالیتونه له اسلامي امارت سره په نږدې کیدو سره وڅاري. د دې تر څنګ د داعش پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه د روسیې لپاره ښه خبر و. د داعش پر وړاندې د اسلامي امارت بریا او په افغانستان کې د دې ډلې ځپل روسان نور هم هڅولي چې له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې او تعامل زیات کړي.

بله مسئله چې په افغانستان کې د روسیې لپاره د ژورې اندیښنې لامل ګرځي په افغانستان کې د لویدیځوالو په ځانګړې توګه د امریکا د متحده ایالاتو حضور دی. په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو د حضور په اړه یوه قوي فرضیه دا وه چې په افغانستان کې د خپل شتون له لارې دغه هیواد غواړي مرکزي اسیا ته چې د روسیې «انګړ» شمیرل کیږي نفوذ وکړي. د همدې فرضیې پر بنسټ امریکامتحده ایالات له ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه افغانستان په خپله یوه پوځي او سیاسي اډه بدل کړی و او له هغې علاوه په مرکزي اسیا کې د روسیې د ګټو پر ضد دسیسې جوړوي. ویل کیږي کله چې روسیه په دې پوه شوه چې امریکامتحده ایالات په افغانستان کې له خپل شتون څخه د دغه هیواد په وړاندې کوم ناوړه نیت لري، نو له اسلامي امارت سره یې اړیکې پیل کړې. ځکه روسیه پوهیده چې یوازینی ځواک چې په افغانستان کې د امریکا شتون نه شي

زغملی اسلامي امارت دی. وروسته له دې چې اسلامي امارت له افغانستانه د امریکا په شړلو بریالی شو، روسيې ورسره خپلې اړيکې پراخې کړې، ځکه د مسکو په اند دا اسلامی امارت دی چې تر کومه بقا ولری تر هغه وخته به په افغانستان کې د امريکا حضور ته اجازه ورنه کړي.

بله مسئله داده چې د روسانو ارزونه ده چې اسلامي امارت په افغانستان کې يوازينی ځواک دی چې په ټول افغانستان کې د مرکزي او واحدې حکومتدارۍ د عملي کولو وړتيا لري. دا مسئله دومره ارزښتناکه ده چې روسي چارواکو په وار وار پر دې اعتراف کړی دی. لکه څنګه چې د روسيې د بهرنيو چارو وزير او خپله د پوتين په وروستيو څرګندونو کې په ښکاره توګه ليدل شوي. د مسکو له نظره، اسلامي امارت په ټول افغانستان کې د متحدې حکومتولۍ په عملي کولو سره د تروريستي او ورانکارو ډلو د شتون مخه نيولې او له خپلې خوا يې د مرکزي اسيا او روسيې ذهنونه آرام کړي دي. له همدې امله روسيې له اسلامي امارت سره خپل تعامل پراخ کړی او اړيکې يې د پياوړتيا پر لور رواني دي.

**۲ -سياسي موخې**

هغه سياسي اهداف چې روسيه يې اسلامي امارت ته له نږدې کيدو تعقيبوي يو اړخيز او څو اړخيز محورونه لري. په يو اړخيز محور کې په افغانستان کې د امريکامتحده ايالاتو د حضور له پای ته رسيدو وروسته روسيې له دې فرصته ګټه پورته کړه او غواړي له اسلامي امارت سره د اړيکو په جوړولو سره په افغانستان کې خپل نفوذ زيات کړي. هغه څه چې په تېرو شل کلونو کې د روسيې لپاره ممکن نه وو، ځکه امريکا او د هغه په ملاتړ حکومت هېڅکله له افغانستان سره د روسيې د سياسي روغې جوړې لپاره زړه ښه نه کړ. په دويم محور کې روسيه غواړي چې د سيمه ييزې اجماع او اتحاد په جوړولو سره اسلامي امارت په ختيځ بلاک کې وساتي. لکه څنګه چې د لاوروف او پوتين په وروستيو څرګندونو کې روښانه شوې، اسلامي امارت ته د نږدې کيدو په لړ کې د روسيې يو هدف د افغانستان په اړه د روسيې له سيمه ييزو ملګرو سره د همغږۍ رامنځته کول دي. که له افغانستان څخه د امريکا له وتلو مخکې او وروسته د افغانستان نړيوال وضعيت وڅېړو، نو څرګندېږي چې افغانستان د امريکا د حضور پر مهال په لوېديځ بلاک کې و، خو د امريکا له وتلو او په افغانستان کې د اسلامي امارت له بيا واکمنيدو وروسته د نړيوالو ډلبندۍ له نظره په يوه مبهم حالت کې واچول شو. روسيه د دې فرصت څخه په استفادې هڅه کوي چې دا ډول تشه ډکه کړي. روسان په دې خبره پوهېږي چې که افغانستان يوازې پرېږدي، ښايي لوېديځ هېوادونه بيا افغانستان ته د نږدې کيدو هڅې وکړي، چې په دې صورت کې به د تېرو شلو کالونو حالت تکرار شي. له همدې امله روسيې له افغانستان سره د نږدې کېدو په برخه کې لومړنی ګامونه پورته کړي او نور هېوادونه په ځانګړې توګه د مرکزي اسيا هېوادونه هم هڅوي چې په دې لاره کې ورسره يوځای شي. البته په دې دريځ کې د چين په ګډون د مرکزي اسيا او ايران هېوادونه هم له روسيې سره موافق دي او په ګډه د يوه سيمه ييز ايتلاف د جوړولو لپاره کار کوي چې افغانستان په خپل يو محور کې وساتي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳ -اقتصادي موخې

بل هدف چې روسیه یې د اسلامي امارت د نږدې کیدو له لارې تعقیبوي اقتصادي مسایل دي. که څه هم روسیې په تېر کې له افغانستان سره اقتصادي اړیکې درلودې، خو په دغه هېواد کې د امریکا حضور او له امریکا سره د افغان حکومت اتحاد په افغانستان کې د روسیې د پراخ اقتصادي حضور لپاره لازمه زمینه برابره نه کړه. په افغانستان کې د امریکا له وتلو او د هغه د متحد حکومت له ړنګېدو سره روسیې په افغانستان کې د پراخ اقتصادي حضور لپاره ډېر ښه فرصت وموند. افغانستان له اقتصادي پلوه د روسیې لپاره له څو اړخونو ارزښت لري. لومړی، روسیه کولی شي د هغه زیربنایي پروژو په بیارغونه کې برخه واخلي چې روسانو پخوا په افغانستان کې جوړې کړې وې. دویم روسیه کولی شي چې په افغانستان کې د کانونو د استخراج په برخه کې پانګونه وکړي. درېیم دا چې د روسیې تولیداتو ته د افغانستان بازار پرانیستل شي او دغه هېواد کولای شي له افغانستان سره خپل صادرات او واردات زیات کړي.

## پر اسلامي امارت د روسیې د کړنو اغیزې

روسیه د نړۍ د یو قدرت په توګه د افغانستان لپاره یو ستر ارزښت لري. په افغانستان کې د روسیې نفوذ په درې ډوله ارزول کېدای شي.

۱ -داخلي لوري

لومړی لوری دا دی چې روسیه د یو ستر قدرت په توګه د افغانستان پر وضعیت نفوذ کولای شي. د روسیې په شان د یو لوی هیواد مثبت نظر کولای شي د اسلامي امارت موقف په کورني سطحه ډېر ښه کړي. د اسلامي امارت له مخالفینو سره د روسیې د ملاتړ نشتوالی د دوی د حاکمیت په پیاوړتیا کې مرسته کوي او افغانستان لا زیات ثبات ته رسوي. له اسلامي امارت سره د روسیې د سیاسي اړیکو پراخیدل د دواړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا زمینه برابروي او افغانستان د خپلو لومړنیو منابعو او وارداتي انرژۍ د اړتیا له امله په دې برخه کې د روسیې له ډېرو تولیداتو څخه کار اخیستلی شي او خپل وارداتي بازارونه متنوع کړي.

**۲ -سیمه ییز لوري**

له بلې خوا د اسلامي امارت په اړه د روسیې مثبت نظر په نړیواله او سیمه ییزه کچه د روسیې د متحدینو په ځانګړې توګه د مرکزي اسیا د هېوادونو په نظر کې ډېر اغېز لري. لکه څنګه چې لیدل کیږي، د مرکزي اسیا هیوادونه هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې د روسیې په همغږۍ سره پراخې کړي. کله چې روسي چارواکي په نړیوالو او سیمه ییزو ناستو کې د اسلامي امارت ملاتړ کوي او په افغانستان کې یې شتون اغېزمن ارزوي، د نورو هېوادونو پر دریځونو ژور اغېز پرېباسي. حتی د تاجکستان هیواد که څه هم د اسلامي


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

امارت په مخالفت کې راغلی، خو د روسيې دريځ په دقيق ډول په نظر کې نيسي. لکه څنګه چې ليدل کېږي، د تاجکستان هيواد ورځ تر بلې د اسلامي امارت په وړاندې خپل دريځونه نرموي، چې لامل يې د اسلامي امارت په اړه د روسيې مثبت نظر دی. د تاجکستان تر څنګ هند يو بل هېواد دی چې پخوا يې د اسلامي امارت له مخالفينو سره نږدې اړيکې درلودې او د تېر افغان حکومت له سيمه ييزو متحدينو څخه ګڼل کېده. له دې امله چې روسيه له دغه هېواد سره ډېرې نږدې او ښې اړيکې لري، کولای شي د اسلامي امارت په اړه د هند په دريځ کې نفوذ وکړي او نه يوازې دا چې هند د اسلامي امارت په وړاندې د منفي اقدام په ډګر کې محتاط کړي، بلکې دغه هيواد د روسيې سره يوځای له اسلامي امارت سره اړيکې جوړې کړي.

### ۳ -نړيوال لوري

په نړيواله کچه د اسلامي امارت په اړه د روسيې مثبت نظر دوه اړخيزې اغيزې لري. له يوې خوا، روسيه يو داسې هيواد دی چې په نړۍ کې ډېر متحدين لري. د اسلامي امارت په اړه د دغه هېواد مثبت نظر کولای شي د نړۍ د هېوادونو لويه برخه له هغه سره يو ځای کړي او په نړيواله سطحه د اسلامي امارت د مقام د لوړولو لامل شي او د روسيې متحدين د نږدې کېدو لپاره وهڅول شي او له اسلامي امارت سره اړيکې ټينګې کړي. له دې ډلې د نړۍ يو له مهمو قدرتونو څخه چين دی، چې په دې برخه کې له روسيې سره په همغږۍ حرکت کوي. دغه دوه هېوادونه چې دواړه د امنيت شورا دايمي غړي دي، تل يې د اسلامي امارت پر ضد پرېکړه ليک ته منفي رايه ورکړې ده. په دې لړ کې په اسيا، افريقا او لاتيني امريکا کې ډېر داسې هېوادونه شته چې د روسيې تر نفوذ لاندې دي، د اسلامي امارت په رسميت پېژندلو او ورسره مثبتو اړيکو ته چمتو دي.

خو له بلې خوا د روسيې سره مثبت تعامل او له اسلامي امارت سره نږدې کېدل هم منفي اغېز لرلی شي. روسيه يوازينی ستر قدرت دی چې په حقيقت کې له لويديځ سره په مخالفت کې دی او د اوکراين له لارې له لويديځ په ځانګړې توګه له امريکا سره په غير مستقيم ډول په جګړه بوخت دی. د دې په نظر کې نيولو سره يو احتمال دا دی چې هر څومره چې اسلامي امارت روسيې ته نږدې شي، هغومره به لويديځ د اسلامي امارت په وړاندې منفي اقدامات وکړي او د اسلامي امارت د مجازاتو په فکر کې به شي. بې له شکه چې د افغانستان په ټول تاريخ کې تل له يوه ستر قدرت سره د نږدې کېدو او له بل څخه د ليرې کېدو په پايله کې يو لړ ستونزو رامنځته شوي دي، نو له دې امله لرې نه ده چې که د روسيی تعامل له اسلامي امارت سره نور هم پراختيا ومومي، امريکا به هڅه وکړي چې دغه تعامل له منځه يوسي او پر اسلامي امارت فشارونه زيات کړي.

### پايله

له افغانستان څخه د امریکامتحده ایالاتو وتل او د اسلامي امارت بیرته راتگ روسانو ته ډېر فرصتونه برابر کړل چې افغانستان ته نږدې شي. په حقیقت کې له افغانستان څخه د امریکا وتل د روسیې لپاره یو زرین فرصت گڼل کیدای شي، څو دغه هیواد وکولای شي په افغانستان کې خپل امنیتي، سیاسي او اقتصادي اهداف د اسلامي امارت سره په نږدې کیدو کې په ښه توگه تعقیب کړي. د امنیت په برخه کې چې روسیه د ترهگرو ډلو او په افغانستان کې د امریکا له شتون څخه ځوریږي، د اسلامي امارت بیرته راتگ د روسیې له امنیت سره ډېره مرسته کولای شي. په سیاسي لحاظ په سیمه کې د امریکا په نشتوالي کې روسیه هڅه کوي چې اسلامي امارت ته په نږدې کیدو سره شته خلا ډکه کړي. همدا راز روسیه په افغانستان کې اقتصادي اهداف لري چې د اسلامي امارت سره په نږدې کیدو کې ترلاسه کیدای شي. د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو په موخه، د اسلامي امارت له بیا راتگ وروسته، روسیې له هغوی سره خپل تعامل زیات کړ او ورو ورو یې ځان اسلامي امارت ته نږدې کړ، خو آیا د روسیې وروستي اقدامات به د دې لامل شي چې د دغه هېواد له خوا اسلامي امارت په رسمي توگه په رسمیت وپېژندل شي او که نه؟ ځواب دا دی چې روسیه به په دې برخه کې په یوازې ځان اقدام نه کوي بلکې له خپلو نورو سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو سره په همغږۍ به پرېکړه کوي.

## وړاندیزونه

د پورته توضیحاتو په رڼا کې، ځینې وړاندیزونه وړاندې کیږي:

۱ -اسلامي امارت باید د خپل سیاسي موقف د ښه کولو او د هیواد د اقتصادي ودې لپاره د روسیې له سیاسي او اقتصادي ظرفیتونو څخه کار واخلي.

۲ -اسلامی امارت باید د نورو هیوادونو امنیتي او سیاسي ملاحظات و ارزوي او د هغوی مشروع ملاحظاتو ته مثبت ځواب ووایي.

۳ -اسلامي امارت باید په خپل بهرني سیاست کې انډول وساتي او یو ستر نړیوال قدرت ته په نږدې کیدو کې له احتیاط څخه کار واخلي ترڅو هیواد بیا له بحران سره مخامخ نه شي.

## مأخذونه


1. https://www.youtube.com/watch?v=gdCL2zGa2v4
2. https://mof.gov.af/sites/default/files/2019-02/%D8%AA%D8%B9%D9%84%DB%8C%D9%85%D8%A7%D8%AA%D9%86%D8%A7%D9%85%D9%87%20%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%20%D9%85%


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%A7%D8%AA%20%D8%A8%D8%B1%20%D8%B9%D8%A7%DB%8C%D8%AF%D8%A7%D8%AA%20%282%29.pdf

3. Hosono, K., Hotei, M., & Miyakawa, D. (2023). Causal effects of a tax incentive on SME capital investment. *Small Business Economics, 61*(2), 539-557.
4. https://alvandhesaban.com/what-is-a-tax-exemption/
5. Harju, J., & Kosonen, T. (2012). *The impact of tax incentives on the economic activity of entrepreneurs* (No. w18442). National Bureau of Economic Research.
6. https://thedocs.worldbank.org/en/doc/892ff644f4cc53304fa51c414ab25b1f-0310012024/original/Afghanistan-Economic-Monitor-February-2024.pdf

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمېره: +93780618000

+93780618000